انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۷/۱۷

# د سردار محمد داودخان
## په زعامت جمهوری نظام ولی ژر سقوط وکړ؟

دی یوښتنی ته له هغه وخته چی دا پیښه را منځ ته شویده د ډیرو کورنیو او بهرنیو څیرونکو له خوا د خپلو معلوماتو په حدودو کی ځوابونه ویل شویدی. چا د بهرنیو هیوادونو لاس وهنو ته ګوته نیولی او چا هم کورنیو لاملونو ته ډیر ارزښت ورکړیدی. زما په نظر دا دواړه (هم کورني او هم بهرني) لاملونه په خپل ځای کی د لومړی جمهوری نظام په نسکوریدو کی بی تاثیره نه دی او دواړو ممکن په دی برخه کی خپل رول لوبولی وی، خو ماته د دی ټولو لاملونو را منځ ته کیدل خپله د سردار محمد داودخان په وجود کی نغښتی ښکاری او د ټولنیزو مسائیلو او اړیکو سره د هغه شخصی برخورد راته د جمهوری نظام په نسکوریدو کی تر ټولو نورو لاملونو او عواملو څخه مهم او کاری بریښي. او هغه هم له دی کبله چی:

### ۱ـ د ولسونو سره د هغه کمزوری اړیکی:

سردار صاحب محمد داود خان په داسی کورنیو شرایطو کی رالوی شوی او زلمی شوی و، چی په ښونځی کی د یو څو ساعتونو څخه پرته، چی د خپلو ټولګی والو سره به یی لیده کاته شوی وی بیا د ځوانی تر وخته پوری ټل په یو سر ترلی چاپیریال کی پاتی شویدی، کله هم په ټولنه کی د ننه د هغو ستونزو او کړاوونو نه دی خبر شوی چی د ده د ټولنی انسانان ور سره مخامخ وو.

هغه چی د ځوانی مرحلی ته را رسیدلی نو بیا همیشه د یوه حاکم او حکمران په څیره کی د خلکو سره مخا مخ شویدی او له هغه وخته تر ننه پوری زمونږ په نا لوستی ټولنه کی د حاکم او حکمران تعریف همداسی شویدی چی باید عوام خلک تری ویره ولری، اطاعت یی وکړی او هر امریی بی له دلیل څخه ومنی.

هغه په دربار کی د ننه هرڅه د خپل مستبد او کُل اختیاره سکه تره لوی صدراعظم محمد هاشم خان څخه یواځی وهل، ټکول، ترل، قیل او فانه کول اویه سیاه چالونو کی د هغو کسانواچول، لیدلی اوزده کړی و، چی د دی کورنی سره یی یا لږ او یا ډیر ضدیت درلود لکه د غازی میرزمان خان کونړي کورنی او په لسګونو داسی نوری پتمنی کورنی. همدارنګه مرحوم سردار صاحب محمد داود خان د خامی ځوانی له وخته په نظامی چارو کی د قوماندانیت

و ظیفی سرته رسولی او د خپل خشن برخورد له امله یی په ولسونو کی داسی نوم ګټلی و چا به ورته د یوځه او چا به دبل څه لقب ورکاوه او د عام ولس سره یی کومی دوستانه اړیکی نه درلودی. له هغه وخته چی دی په پکتیا کی د منګلو د ولس او په کونړ کی د صافیو د قوم د نارمیو د له منځه وړلو د پاره د مسؤل فوځی په توګه و ټاکل شو او هلته یی د دی ولسونو په وړاندی کوم څه تر سره کړل تر ننه پوری یی منفی تاثیرات په خلکو کی پاتی دی.

سردار صاحب چی په مشرقی او قندهار کی د تنظیمیه ریاست د وظایفو د اجرا په وخت کی کوم ویرونکی اجرات کړیدی، کیسی یی تر اوسه پاتی دی. همادرنګه د مرکزی قواو د قوماندانیت، د داخله وزارت، دفاع وزارت، د صدارت او بالاخره د جمهوری ریاست د وخت ټول ویرونکی کړه وړه یی د دی شاهدی ورکوی چی هغه، د خپل هغه ولس د خلکو زړونه چی د ده د لاس لاندی ژوند کاوه نه یوائی داچی په لاس را نه وړل بلکی د بیلو بیلو عناصرو په لمسه یی د هغوی زړونه مات کړل او د خپل زعامت ګټور اړخ ته یی زیان ورساوه.

د دی یادونو څخه می مطلب دادی چی د دنیا هیڅ زمامدار، د خپلو خلکو او ولسونو له ملاتړ او مرستی پرته که د هرڅومره نورو امکاناتو لرونکی هم وی، نه شی کولای چی په ټولنیزو ستونزو بری و مومی او خپل زعامت لکه څنګه چی ورته اړتیا ده په خلکو ومنی.

زما د دی ادعا د ثبوت د پاره به کافی وی چی تر سردار صاحب را وروسته زعامتونه لکه د پرچم د ډلی زعامت چی د شوروی د ابر قدرت له هراړخیزی حمایی نه برخه من و خو د خپلو خلکو ملاتړ ور سره نه و، څه ور پیښ شول؟ همدا رنګه له هغی را وروسته تر ننه پوری ټول زعامتونه چی د بیلو بیلو هیوادونو ملاتړ ورسره وو او همدا ننني دولت چی د ټولی نړی مالی او بشری امکانات یی په اختیار کی دی خو د خپلو خلکو او ولسونو نه فاصله لری یو په بل پسی په پرله پسی توګه د ناکامی او رسوایی سره مخامخ کیږی.

له همدی ځایه ماته داسی ښکاری چی د سردار صاحب محمد داود خان د جمهوری نظام د ډیر ژر سقوط لویه وجه همداوه چی د ده تکیه په خپل ملت نه وه، په لومړی سر کی د روس د دولت په حمایت او مرستو متکی و او په ورسته وخت کی یی د روس نه مخ و ګرځاوه او د نورو هیوادو لکه ایران او عربی هیوادونو په اوړوپی لاس کیښود او همدا یی د رژیم د نسکوریدو عامل شو.

## ۲ ـ د واکونو نامناسب ویش:

د ۱۳۵۲ کال د سرطان د ۲۶ نیټی په کودتا کی چی د سردار محمد داود خان یی مشر و، دوه ډله پوځیانو برخه لروده، لومړی هغه ډله صاحب منصبان وو چی د سردار صاحب سره یی لا د پخوا نه یا خپله او یا د هغوی د پلرونو له طریقه بلدیت او پیژندنه لروده او دوهمه هغه ډله وه چی د ډاکټر محمد حسن شرق له خوا سردار صاحب ته معرفی شوی وو، او دی ډلی ټولو منصبدارانو د شوروی اتحاد او یا دکمونیستی بلاک دنورو هیوادونو په نظامی مرکزونو کی تربیه لیدلی وه او د شوروی اتحاد د نظامی استخباراتی سازمان (جی.آر. یو.)ی په ۱۹۶۴ کال کی د افغانستان په اردو کی تشکل میندلی و او یا هم دخلک د دموکراتیک ګوند خصوصاً دببرک کارمل په مشری دپرچم دډلی غړی وو. کله چی کودتا په بری سره سرته ورسیده نو د حکومت ډیر حساس پوستونه همدی دویمی ډلی یعنی د کودتا د چپی

غړو لاس ته د نا محدودو صلاحیتونو سره ورغلل او په حکومت کی د همدی چپی عناصرو د زیات واک له کبله کودتا ته د انقلاب نوم ور کړشو.

ډاکټر محمد حسن شرق د جمهور رئیس معاون شو، فیض محمد د کورنیو چارو وزیر او ډاکټر نعمت الله پژواک د معارف د وزیر او پاچا گل وفادار چی د خلق د څانگی غړی او دده د خپلی وینا له مخی د سردار صاحب بچه خوانده و، و د سرحداتو د وزیر په توگه و ټاکل شول. لومړنی دری واړه تنه او د کابینی څو نورو غړی د (خلکو په وینا) د پرچم د ډلی غړی وو او د ببرک کارمل په مستقیمه لار ښونه یی کار کوه.

دوی د سردار محمد داود خان له باور څخه ناوړه گټه پورته کړه او په لنډ وخت کی د خپلو حریفانو په سرکوبولو چی هم پکی د میوندوال په څیر ملی اشخاص او هم د ښی اړخ افراطی اسلامستان پکی شامل وو لاس پوری کړ اود مختلفو دسیسو په جوړولو سره یی ( چی ډاکټر محمد حسن شرق هغه په خپلو ټولو لیکنو کی زکر کړیدی) په راتلونکی کی د هغوی نه د ځان د خلاصون په منظور د کودتا گانو د کولو او د نظام د چپه کولو تورونه و لگول او په دی توگه یی دی ته زمینه برابره کړه چی د هیواد په دننه کی د سردار صاحب نه یو وار بیا د خلکو په زړونو کی ویره پیدا کړی او په هغه باندی د یوه ښه رهبر په توگه د ولسونو باور ته صدمه ورسوی او هغه د یوه مطلق العنان واکدار په توگه معرفی کاندی. له بده مرغه د هغه د کابینی او یا د مرکزی کمیتي نورو غړو هم د همدی شوروی پلوه ډلی له خوا جوړی شوی د سیسی ربنتیا و گڼلی او سردار صاحب ته یی یا د ناپوهی له وجهی او یا هم په قصدی توگه داسی مشوره ورنکړله چی تر ټولو د مخه باید ولسونو ته ځان ور نژدی کاندی اوپری نږدی چی د جمهوری نظام داخلی او خارجي دښمنانو ته د دی زمینه برابره شی چی دا نوی نیالگی پخوا له دی چی ونه شی په اسانی سره له بیخه و ویستل شی. (له بده مرغه چی همداسی وشول)

د دی ټولو بوگنونکو پیښو او د کودتا گانو په نوم د ملی شخصیتونو تورن کول او په ډیر وحشیانه توگه د هغوی د له منځه وړلو مسؤلیت څکه سردار صاحب ته راجع کیږی ، چی د دی پیښو اصلی عاملین اوپه جمهوری نظام کی د دی چپی عناصرو نا مناسبه مقرری او هغوی ته د نا محدود صلاحیتونو ورکړه د مرحوم سردار صاحب له خوا تر سره شویده. (دا خبره شاید هر چاته څرگنده وی چی د جمهوریت په لومړیو څو میاشتو کی د جمهور رئیس سردار محمد داود خان سره حتی د لیدنی اجازه هم د فیض محمد له خوا چی داخله وزیر و ور کول کیده ) که سردار صاحب هغه فکر چی ترکودتا یو کال وروسته یی وکړ او د ډاکټر حسن شرق په مشری کمونستی ډله یی له حساسو دولتی پوستونو نه لری کړل، د جمهوری نظام د برقراری په لومړیو وختونو کی کړی وای (که یی کولای شوای؟؟؟؟) نو سردار صاحب به دومره ځانته نه وی پاتی شوی لکه څنگه چی پاتی شو. (ځنی څیرونکی په دی نظر دی ډاکټر حسن شرق او فیض محمد جمهور رئیس محمد داود خان ته د هغه له ورور سردار محمد نعیم خان څخه هم ورنژدی او د رژیم مؤثر اشخاص گڼل شویدی )

## ۳ ـ د سیاسي بندیزونو لګول:

د دمو کراسی نژدی لس کلنه دوره که په وخت وه او که بی خته، خو د افغانستان روشنفکری قشر ته یی په ټولنیزو چارو کی د گډون لاره پرانستله او په سیاسي لحاظ په دی سر تړلی ټولنه کی یو تحول او بدلون راوست. شاید دابه د

زمان غوښتنه هم وه چې باید ولسونو ته د خپل سرنوشت د تغیر د پاره موقع ور کړله شي او په ټولنه باندی د یوځو تنوواکداری ته خاتمه ور کړله شي، خوداچې باید دا سیاسی حرکات څه ډول پر مخ و لاړ شي یوی لاری او هسی طرزالعمل پکی اړتیا ده چې د ګډ وډیو مخه پکی و نیوله شي او د هغو ډلو فعالیتونه چې د یا د ملی ګټو په ضد وی او یا د عامه نظم د له منځه وړلو سبب کیږی تر جدی کنترول لاندی راولی، چې له بده مرغه د دمو کراسی په دوره، کی داسی هیڅ کوم طرزالعمل را منځ ته نه شو چې د بیلا بیلو ډلو دا سیاسی حرکات تنظیم او کنترول کاندی . نو شاید همدا بی نظمی به د دی باعث شوی وی چې پردی افراطی ایډیالوژی چې د افغانی ټولنی د اصلاح د پاره په هیڅ وجه مساعدی نه وی په ډیر شدت سره دی ټولنی ته راوړلی شي او په ځوان کول کی د احساساتو له کبله په سرعت سره نفوذ وکړی. دا هغه ستره نیمګړ تیا وه چې د شاهی نظام څخه جمهوری نظام ته را پاتی وه.

کله چې جمهوری نظام د شاهی کورني د مشهور او پیژندل شوی شخصیت سردار محمد داود خان له خوا را منځ ته شو او خلکو ته د خپلی تاریخ وینا په اورولو سره د نوو تغیراتو او تحولاتو وعده ورکړله، نو د افغان ولس سره د دی هیله پیدا شوه چې نوره ګوندی د سکون دوره پای ته ورسیده او د تحرک مرحله را پیل شوه.

افغان ولس دی ته انتظار درلود چې د جمهوری دولت نوی اساسی قانون به د سیاسی فعالیتونو د مؤثریت د پاره مناسبه لاره پرانزی، خو کله چې په ۱۹۷۷ د جنوری د میاشتی په ۲۶ نیټه د اساسی قانون مسوده د عامو خلکو د خبر تیا د پاره د هیواد په ورځپاڼو او جریدو کی نشر شوه، ولیدل شول چې دجمهوری دولت په نوی اساسی قانون کی د دی قانو د څلویښتمی مادی په حکم یو حزبه دولتی سیستم په نظر کی نیول شوی و اویواځی د ملی انقلاب ګوند ته چې د سرطان د ۲۶ نیټی د مترقی او ولسی انقلاب بنسټ اینبودونکی او مخکښ ګوند معرفی شوی و، د سیاسی فعالیت اجازه ورکړ شوی وه. د دی قانون مسوده بی له تغیر څخه د ۱۹۷۷ کال د مارچ د میاشتی په څلورمه نیټه د هغی لوی جرګی له خوا چې ۳۴۹ غړی یی درلوده تصویب او د مارچ د میاشتی په ۱۴ نیټی د جمهور رئیس سردار محمد داود خان له خو په داسی حال کی چې د همدی جرګی له خوا د شپږو کالو د پاره د جمهور رئیس په توګه ټاکل شوی وو توشیح او نافذ شو. د دی قانون د انفاذ سره سم په ټولو هغو سیاسی فعالیتونو باندی چې د دمو کراسی به دوره کی یی جریان درلود په مطلقه توګه بندیز و لګیده او لکه د ایران د دولتی حزب (رستاخیز) په څیریی ټول واک په خپل لاس کس ونیو او په دی توګه په هر ډول سیاسی فعالیت باندی قیودات وضع او د عوامو خبره د (بخار د دیګ سر بیا و تړل شو).

د ملی انقلاب ګوند چې له پاسه راغلی و نه یواځی په دی و نه توانیده چې د په ولسونو او خصوصاُ روشنفکرانو کی ځانته ځای پیداکړی بلکی دا یی هم ونه شو کولی چې حتی خپل دری اړخونه یو د بل سره همکاری ته چمتو کړی. ددی ګونددادری اړخونه په دی ډول وو:

- د سید عبدالاله، قدیر نورستانی او غلام حیدر رسولی ډله.
- د پوهاند عبدالقیوم وردک اړو ډاکتر عبالمجید خان ډله او
- د سید وحید عبدالله او عزیزاله واصفی ډله.

یوه کیسه داسی ده چی مرحوم عزیزاله واصفی دی حزب ته د جلب و جزب د پاره د ارزگان په ولایت کی و، چی په همدی وخت کی د کابل راډیو د ملی انقلاب د حزب د مرکزی کمیتی د غړو په توگه د ینځو تنو نومونه لکه ډاکټر عبدالمجید خان، پوهاند عبدالقیوم وردک، سید عبدالاله، غلام حیدر رسولی او عبدالقدیر نورستان نومونه یاد کړل او د عزیزاله واصفی او سید وحید عبداله ډلی ته یی په مرکزی کمیته کی ځای ور نکړ. سید وحید عبداله او ینځو تنو نورو وزیرانو عزیزاله واصفی، و فی اله سمیعی، عبدالکریم عطایی، تواب آصفی او عبداله عمر، د محمد داودخان د دغه اقدام په مقابل کی استعفا وکړه، خو د سردار محمد نعیم خان په وساطت دغه وزیران بیرته خپلو وظایفو ته را ساتنه شول. (افغانستان د جمهوریت او دموکراسی په کلونو کی ۲۴۶ او ۲۴۷ مخونه)

دا او دی ته ورته نوری په لسگونو کورنی عوامل چی په دی لیکنه یی د زکر کولو گنجایش نشته د دی سبب شول چی د جمهوری نظام د نسکورولو ته یی زمینه برابره کړه. د دی عواملو تر څنگ ځنی نور ستر نړیوال عوامل هم داسی را پیدا شول چی د جمهوری دولت عمر را لنډ کاندی، چی ځنی به یی دلته په لنډه توگه یاد کړو.

## ۴ ـ په خارجی برخه کی :

په خارجی برخه کی تر ټولو د مخه د پاکستان د وخت صدراعظم ذوالفقار علی بوټو لومړنی کس وو چی د افغانستان د نوی جمهوری دولت د را پرزولو د پاره یی هلی ځلی پیل کړی. په دی هکله عبدالقدوس لودین په خپل اثر ( افغانستان در جولانگاه افراطگرائي) کی د عبدالحمید مبارز له قوله داسی لیکی: « وقتی ذوالفقار علی بوتو رهبر پاکستان هیاتی متشکل از حاجی محمدیونس خوگیانی و وکیل محمد اعظم شنواری دو تن از افغان ها و کرنیل ابراهیم خان پاکستانی را که اصلاً محمدزائی بود، به روم فرستادند و به وسیله این هیات از ظاهرشاه‌دعوت کرد تا به پاکستان بیاید، پاکستان ازوی حمایت خواهد نمود. اما ظاهرشاه این دعوت را رد کرد، پاکستان از آن تاریخ به بعد با ظاهرشاه مخالف شد.» قدوس لودین زیاتوی چی« درین کتاب از قول جنرال نصیراله بابرکه در سیمیناری در پشاور بطوری علنی اظهار داشته بود که وقتی ظاهر شاه این دعوت را رد کرد و هیات فرستاده شده ازجانب پاکستان را با دست خال بر گشتاند، پاکستان از گلبدین حکمتیار، برهان الدین ربانی و احمدشاه مسعود خواست تا پلان مقابله با جمهوریت جدید را به پیش برند». د سیاسی کتونکو له نظره د پاکستان دولت په دی توگه غوښتل چی محمدداود خان د پښتونستان او بلوچستان د مسئلی څخه چی د ده د صدارت په دوره کی د ده یو له عمده هدفونو څخه و منصرف کاندی.

همدارنگه عبدالحمید مبارز به خپل اثر(ازسقوط سلطنت تا ظهور طالبان) کی د جمهوری دولت په وړاند ی د ایران د شاهی دولت تشویش ته داسی گوته نیسی: «...دربار ایران سخت نگران شده بود مخصوصا اسداله (علم) وزیر دربار ایران ......تجربه تاریخ برای (علم) می اموخت که اگر تحریکاتی به نفع سلطنت ظاهرشاه درغرب افغانستان یعنی نیمروز ،فراه، هیلمند و کندهار مایه یک قیام بزرگ میگردد......» علم به شهنشاه مشوره می دهد و میگویند :« .... درمرحله اول میتواند فقط به پادشاه پیشنهاد کومک مالی بدهد، وقتی که مدیون ما باشد ممکن است درمورد باز گشت به افغانستان تغییر عقیده دهد. ..... شاه ایران با این نقشه موافقت کرد. » په همدی برخه کی محمدظاهرشاه د بی بی سی د خبریالی مینه بکتاش سره د ۲۰۰۵ ع کال د سپتمبر په دویمه نیته په یوه راډیو مرکه کی داسی ویلی و: « از نظر من این کمک بسیار خطرناک بود. من هیچ وقت نخواسته ام که به کمک دیگران به کشور خود بر گردم، اگر چنین هم میشد برای من ننگ بود. اگر مردم مرا قبول هم میکردند خودم قبول نمی کردم ...»

د ایران پاچا له دی کبله په افغانستان کی د جمهوری دولت له تقویی او استقرار نه ویره لرووده چی فکر یی کاوه دا تغیر به په ایران کی هم ورته عمل ته د ایران ملت را و پاروی او دده شاهانه تسلط ته به د پای ټکی کیدی. د دی تر څنګ د پاکستان سره د اختلافاتو د له منځه وړلو او د پښتونستان د مسئلی د هموارولو د پاره د سردار صاحب خودسرانه او د افغان ولس سره له مشورو نه پرته هلی ځلی، په وروستیو وختونو کی د سعودی عربستان، ایران او نورو عربی هیوادونو نه د مرستو د تر د لاسه کیدو د پاره یو شمیر هیوادونو ته د محمد داود خان سفرونه، او له دی هیوادونو څخه د مرستو د تر د لاسه کولو ژمنی، د غیر منسلکو هیوادونو څخه د کیوبا د دولت د ویستلو د پاره د سردار صاحب غیر سیاسی دریځ، د شوروی اتحاد د مشر برژنف سره د سردار صاحب لفظی ټکر او بلاخره د له ده څخه د خلق دموکراتیک ګوندد کمونستی ډلی مخ ګرځونه، چی د ده د انقلاب څرخ یی په حرکت راوستی و، او د دی ګوند په مشرانو حمله، اوداسی نور ډیر لوی او واړه دلیلونه ټول په ګډه د دی سبب شول چی د سردار صاحب جمهوری ماشوم نظام زلمی توب او کره توب ته تر د رسیدو نه د مخه را نسکور شی.

د ثور خونړۍ کودتا را منځ ته شی او په پرله پسی توګه له هماغی بی بنیاده بدلون له ورځی یعنی د ۱۳۵۲ کال د سرطان له ۲۶ نیټی د ( ۱۹۷ع کال د جولای د ۱۷ نیټی) څخه بیا تر ننه پوری افغان ولس د ارام ژوند مخه ونه لیده او لاهم نه ده معلومه چی تر کومه به د بدمرغی به دی سره تناره کی سوځی؟؟

پای